فرهاد ویاړ

۱۲ اگست ۲۰۱۳

# شیرکو بی کس،

# کردي شاعر او د ژمنتیا پنځونه

هغه شاعران چي پر ملتونو باندي اغیزه لري، له لاسه تلل یي ناورین ګڼل کیږي. شیر کو بی کس یو له دي شاعرانو څخه و چي د روان زیږدیز کال د اګست په ځلورمه یي په سویډن کي په داسي حال کي چي لالهانده کلیمو یي په ګوګل کي انتظار ویست ځو ونځیږي، سترګي له نړی پټي کړی.

شیرکو بی کس په ۱۹۴۰ زیږدیز کال د عراق د کردستان په سلیمانیه ښار کي نړی ته راغی. د شیر کو بی کس شعرونه د هغو دردونو، ناورینونو او کړاونو او بیوزلی هنداره ده چي د دي پر ولس تیر شوي دي. هغه په خپله ویلی چي شعر یي د لوګیو، اور، خاورې او ایرې سره مل دی او د کردستان ژوندی تاریخ انځوروي.

شیر کو بی کس په ۱۹۷۴ کال کي د هیوادني اتحادیی سره د عراق د حکومت پر وړاندي مباره کوله. د کردانو د قیام له ماتي وروسته د عراق په لودیځ کي پروت رمادیه ښار ته جلا وطن کړای شو. په ۱۹۸۴ کال کي د کردانو د پاځون د ملاتړ او د «قادسیه صدام» د جایزې د نه منلو لپاره اړ شو چي ښار پریږدي او غرونو ته جګ شي.

مریوان حبلچه ای کردي ژباړونکی وایي:«بی کس د تولني، انساني ارمانونو او د آزادی په برخه کي یو ژمن او مسوول شخصیت و. د هغه په شعرونو کي دري بنسټیزه اړخونه پیدا کولی شوو: هغه یو پلټونکی او د آزادی په لټه کي شاعر و، همدا ډول د کردي انسان مفهوم کولای شوو د هغه په آثارو کي پیدا کړو؛ هر ختیځ پوه چي غواړي د کردانو په اړه په ځه پوه شي، باید د هغه آثار ولولي. هغه د کردانو په وړاندي د ناوریونو تاریخ په خپلو آثارو کي ځای په ځای کړی دی؛ سیاسي ماتي، کډوالي او د صدام حسین په وسیله د حلبچه د کیمیاوي بمبار ځخه د کردانو تر وژلو پورې د هغه په آثارو کي ځای لري. بله موضوع چي د هغه په شعر کي اهمیت لري، هغه د میرمنو موضوع ده. د میرمنو د حقونو برابري هغه ته ډیر اهمیت درلود.»

هر ځومره مي چي په ختیځ کي
کوښښ وکړ چي د هنداري مخامخ
او پر دوو ځوکیو
د «ښځي» او «آزادي» کلیمي
د یوبل تر څنګ په مهرباني کیږدم
بی ځایه کوښښه و
تل د «ولس» کلیمه په زوره

راتلله او تسبيح په لاس
په خپله د ښځي په ځای کښيناستله. (ښځه او آزادي)

«عصمت صوفيه» چې د کو بی کس شعرونه يې نارويجي ژبې ته ژباړلي دي، د دې سترکردي شاعر په اړه وايي: «د شيرکو بی کس لورليدی جهانشمول او انساني دی. د هغه شعر، انساني مفاهيم لکه «عدالت» او «آزادي» او «برابري» او په ځانګړي توګه «د ښځي آزادي» رانغاړي. په دې منځ کې د هغه په شعر کې د «ښځې آزادي» مفهوم د نورو انساني مفاهيمو څخه لوړ ځای لري. ښځه د هغه په زياتو شعرونو کې کردي جامې په غاړه لري، خو دا ښځه يوه نړيواله څيره ده؛ هغه ښځه ده چې د نړۍ له هر ګوټ څخه يوه بله ښځه کولای شي په هغه کې ځان ومومي.»

زه تياره:
په پروني ليک کې دي
کوچنی څراغ راته راليږلی و
ما تياره
چې څراغ بل کړ
مخامخ هنداری کې مې
ځان وليد
زه د هغو نارينه وو تور تورتم تاريخ يم
چې څراغ يې په ښځو کې ووژو!

او په بل شعر کې وايي:

ای د ښځې له ويني ډک فرياده
برابري د څه لپاره غواړئ؟
چې ما ته راورسيږئ؟
زه خو لا په خپله
د خرافاتو د هديرې ساتونکی يم
د مهملاتو طوق په غاړه لرم او
د خراباتي عقل اسير يم.

حبلچه ای د شير کو بی کس د ژمنتيا په اړه وايي:«هغه په بيلابيلو حکومتونو کې خلکو ته ژمن و؛ د بعث دمخه، د بعث په وخت کې او همدا اوس هغه خلکو ته ژمن و. هغه جلا وطنه شو او اړ شو چې د غرونو لاره ونيسي، خو له خپلې ژمني لاس په سر نشو.»
همدا ژمنتيا دی چې يو شاعر، هنرمند او فرهنګيال په ستر او تلپاتي انسان بدلوي. د شير کو بی کس انسانی ليد او ژمنتيا لامل کيږي چې هغه د عربي نړۍ د پاڅونونو په اړه له القدس عربي ورځپاڼي سره په خپله مرکه کې داسي

ځرګندوني وکړي:«ژبه او قصیده د دغي لويي پیښي پر وړاندي هیڅ نه شي کولی.... داسي چي یوه لویه قصیده حمص کي د یوه بی ګناه ماشوم له یوه ځاځکي ويني سره نه شو پرتله کولی.»

دې ژمن شاعر په انسانیت باور درلود.بریدونه او پولي د دې باعث نه کیدلي چي هغه له نورو بیوزلو ولسونو بیل او جلا کړي، همدا دی چي وايي:«خپل ځان په دې نړۍ کي د هرې پیښي د رامنځ ته کیدو پر وړاندې مسوول ګڼم، خو پیښو ته د یوه کردي شاعر په نظر ګورم، همدا لامل دی چي کله چي سومالیا کي یو ماشوم وږی وینم، داسي ګڼم چي زما ماشوم له لوږې مري. یا د قاهرې تحریر میدان کي یو ځوان وینو کي لت پت وینم. د لیکوالی پر مهال دا ټول کسان زما د میز پر سر، زړه کي، لیکنو کي او زما مخ ته انځوروم، همدا ده چي له انساني شعور خپل شعر لیرې نه بولم او نه هم امکان لري.» (١)

شیر کو بی کس په خپل وصیت کي لیکلي دي که د سلیمانیه ښاروال اجازه ورکړي خوښ به وي چي د «آزادۍ پارک» او د «سلیمانیه د ١٩٦٢ کال شهیدانو» تر څنګ خښ شي او د قبر تر څنګ يې د شاعرانو، لیکوالانو او مینو جینکو او هلکانو لپاره یوه جونګړه جوړه شي. همدا ډول یې په خپل وصیت کي لیکي دي چي د کتابونو له چاپ څخه يې ټول عاید هغه خیریه موسسې ته ورکړل شي چي د ماشومانو لپاره کار کوي.

شیرکو بی کس وصیت کړی دی چي د ختم په مراسو کي د موسیقي وغږول شي.

شیر کو بی کس ژباړه هغه لیمو سره پرتله کاوله چي اوبه یې زبیښلی شوي وي او یوازې قشقاړه ترې پاتي وي او کله به هم ویل چي ژباړه د پنجرې له شا څخه ښکولو دي. دا د ژباړې ځای ښکاره کوي. خو چاره نشته، ناچاره باید د دې ستر شاعر ځیني شعرونه راوژباړل شوي چي لږ تر لږه د هغه فکر او لید سره آشنا شوو.

دا یې هم د نثر یوه بیلګه چي د شعر او شاعر په اړه په کي خپل فکر ځرګندوي:

«د ګرمسیر غمونه ټول سره راغونډ شول او تابیه یې وکړه چي د سردسیر غمونو لیدلو ته لاړ شی، څو وګوری چي د هغوې مخونه او څیرې هم د دوې په شان پاکي دی که غمژني او ویرځپلي. دوې په لاره کي د یوې ویالي تر څنګ یو شاعر ولید، چي غوږ یې د باد آواز او د اوبو شرشر ا و د مرغانو چغهارو ته نیولی وو، سترګي یې آسمان ته ګندلي وی او لیرې او طلایی رنګه ستوری سره یې د زړه خواله کوله. غمونه یې څنګ ته راغلل او ننداره ته یې کښیناستل، له څه ځنډ وروسته یې هغه ته وویل:

-که دا خپله ښکلي او ښایسته لور تاته درکړو څه به ورته وکړی؟

شاعر په ځیرتیا سره د غم انجلی ته وکتلي او وې ویل:

-کمیس ترې جوړوم او اغوندمه یې.

-همدومره؟

-آوازومه يې او خپلي تراني هغي ته وایمه.

-همدومره؟

-فرشته یې ګڼم او سهار او ماښام یې درناوی کوم.

-همدومره؟

-هڅه کوم یوه ښکلي مانۍ ورته جوړه کړم.

-همدومره؟

-ځان ترې قربانوم.

-همدومره؟

شاعر لړ په فکر کې ډوب شو، د غم انجلی ته يې وکتلی. احساس يې کړه چې د غم انجلی نه غواړی له هغه سره واده وکړي، ځکه چې شاعر ورته قلباً ډیر مغرور ښکاره شو. غمونه جګ شول چې لاړ شی، شاعر ورته وویل:

-ماته، ستاسو لور ډیره ګرانه ده، هغه زما په شان د یو شاعر د میرمنتیا وړتیا لری.

-خو تا ونشو کړای زړه يې لاسته راوړی.

شاعر وویل:

که هغه ما ته راکړی، شعر تری جوړوم او هغو میندو ته يې ورکوم چې د خپلو مفقود شویو اولادونو انتظار کاږي، څو د ماشومتوب آوازونه او لالایی او لولو او د مفقود شویو اولادونو یاد او بیا راستیدنه ورسره زمزمه کړي.

د غم انجلی او د شاعر عقد وشو او غمونو د غرونو په لور حرکت وکړ.

له دې وروسته هغو شاعرانو چې له غم سره واده کړی، د اوښکو لپاره آواز وايي او د اجباری کډوالۍ لپاره ترانه او د نړۍ د ټولو دردونو او رنځونو لپاره شعرونه.»

دا هم د شیر کو بی کس د څو لنډو شعرونو ژباړه:

هغه زندان چې سپوږمی په کې ووژل شوه

لمر تسخیر کړ!

او هغه خوړ چې کوچنی ویالي وڅښلې

بالاخره د سیند په ګوګل کې کښیناست.

**خاوره**

لاس مې د یوې ونې ځانګې ته اوږد کړ

ځانګې د درد له شدته ودانګلی

همدا چې لاس مې ځانګې ته ویوړ

د ونې تنه په نعره شوه

همدا چې مې د ونې تنه په غیږ کې ونیوله

د پښو لاندې خاوره مې په رپیدو شوه، تیکې کوکاره کړه

کله چې تیښ شوم او خاوره مې راواخیستله

ټول کردستان په فریاد شو.

**راز**

شاید وروسته له دې نور

قلم «باد» ته وسپارم

او هغه زما په ځای شعر ووايي

شاید له دې وروسته نور

یوازې «باد»

د واورې او باران نښه

او د تاندي میني لمبه مې بله کړي.

**انځورګري**

څلورو ماشومانو:
ترک، فارس،عرب او کرد
زما انځور وویست
لومړني یې لاسونه
دویمی یې سر
دریمي یې تنه او پښې
او څلورمی یې
پر اوږه توپک.

که له ترانو مې
ګل واخلي
یو فصل به مړ شي
که مینه ترې واخلي
دوه فصلونه به مړه شي
او که ډوډی، دری فصلونه به مړه شي
خو آزادي،
که له ترانو مې آزادي واخلي
کال، ټول کال به مړ شي.

د آسمان د سترګو په وړاندې
وریخ
د وریځو د سترګو په وړاندې
باد
د باد د سترګو په وړاندې
باران
د باران د سترګو په وړاندې
خاوره یې
غلا کړه
او بالاخره د ټولو سترګو په وړاندې
دو ژوندی سترګی یې ژوندی خښې کړی
هغه سترګې چې غله یې لیدلي وو.

۱.مشهور کردي شاعر شیر کو بیکس ومړ، ۵ اګست ۲۰۱۳، پښتو بی بی سی